څوک چې د خپل ورور له عزت څخه دفاع وکړي، نو الله تعالى به د قيامت په ورځ د هغه له مخ څخه اور وګرځوي

له ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "څوک چې د خپل ورور له عزت څخه دفاع وکړي، نو الله تعالى به د قيامت په ورځ د هغه له مخ څخه اور وګرځوي".
[صحيح دى] [الترمذي او احمد روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې په غياب کې د خپل مسلمان ورور له عزت څخه دفاع وکړي او (پرې نږدې چې) د هغه سپکاوى وشي او يا ورسره ناوړه چلند وشي، نو الله تعالى به د قيامت په ورځ له هغه څخه عذاب وګرځوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5514